This document has been archived as it no longer reflects current policy

HM Government

# په انګلستان کې
# د میشته استوګنې د موندلو
# لپاره ستاسو لارښود



Archived

دغه د لارښوونې پاڼه د هغو خلکو لپاره، چې د ARAP یا ACRS د برنامې له لارې انګلستان ته راغلي دي او یا د شرایطو وړ هغو برتانوي اتباعو لپاره ده، چې په موقتي (لنډ مهاله) توګه په هوټلونو یا د خدمتونو سره هستوګنځایونو کې اوسیږي.

This document has been archived as it no longer reflects current policy

**دغه د لارښوونې پاڼه د هغو خلکو لپاره چې د افغانانو د ځای په ځای کولو او مرستې د پالیسۍ (ARAP) یا د افغاني اتباعو د بیامیشتدنې د طرحې (ACRS) له لارې برتانیې ته راغلي دي او د شرایطو وړ برتانوي اتباعو لپاره ده چې په موقتي توګه په هوټلونو یا خدمت شوي استوګنځایونو کې اوسیږي.**

**د انګلستان حکومت به ډېر ژر له ټولو هغو افغان کورنیو او اشخاصو څخه، چې اوسمهال په هوټلونو او یا د خدمت سره استوګنځایونو کې اوسیږي، وغواړي چې د دایمي کور لپاره خپل موقتي (لنډمهاله) استوګنځي پریږدي.**

**دا معلومات تاسو ته دا تشریح کوي، چې تاسې وروسته له دې څه باید وکړئ، او کوم ملاتړ ستاسو لپاره شتون لري.**

د انګلستان حکومت په دې ویاړي چې تاسو ته یې په دې هېواد کې ښه راغلاست ویلی دی. موږ هیله لرو چې د استوګنې او ګټو په ګډون د مرستې هغه پراخه لړۍ چې تاسو ته چمتو شوي ده، له تاسو سره یې په انګلستان کې د ژوند د اسانتیاوو په برابرولو کولو کې مرسته کړې وي.

کله چې تاسو لومړی انګلستان ته راورسېدئ، تاسو ته د لنډمهاله اقدام په توګه د هوټل یا له خدمت سره استوګنځي وړاندیز شوی و. دا هیڅکله زموږ اراده نه وه چې تاسې به د اوږدې مودې لپاره په هوټل کې ژوند وکړئ، ځکه چې هوټلونه د اوږدې مودې استوګنې لپاره مناسب ندي.

موږ غواړو، چې تاسې په پای کې په یوه کور کې مېشت شئ او په خپلواک ډول ژوند وکړئ. له همدې امله، موږ اوس د دې کار د کولو په موخه ستاسو د ملاتړ لپاره اقدام کوو.

## تاسو څه تمه لرئ؟

تاسو به یو لیک تر لاسه کړی وي، یا به یې ډېر ژر تر لاسه کړئ، کوم چې تاسو ته د هغې نېټې په اړه خبر درکړي چې تاسو باید خپل هوټل یا خدمت شوي استوګنځي پرېږدئ. دا تاسو ته د خبرتیا د ورکولو یو یادښت (notice) دی، او نوموړی لیک یو قانوني سند دی، چې د ځای د پرېښودو د خبرتیا (notice to quit) په نامه یادیږي.

تاسې اوس باید د خپل استوګنځي د پیداکولو لپاره ګامونه اوچت کړئ، تر څو داسې یو ځای ومومئ، چې د هغه مالي توان ولرئ، او ستاسو او ستاسې د کورنۍ د اړتیاو لپاره مناسب وي. د انګلستان حکومت به په دې برخه کې ستاسو ملاتړ وکړي. د ډېرو خلکو لپاره به دا راز استوګنه په شخصي کرایه شوي استوګنځیو کې وي، او تاسې کولای شی د خپل اوسنۍ یا نوې شورا څخه مالي ملاتړ تر لاسه کړئ، تر څو یو داسې ملکیت کرایه کړئ، چې د ستاسو لپاره مناسب وي. د ځینو لپاره په دې مالي ملاتړ کې کېدای شي ستاسو سره د زېرمې (تضمین deposit)، ابتدايي کرایې، او فرنیچر د لګښتونو مرستې شاملې وي.

This document has been archived as it no longer reflects current policy

# تاسو اوس باید څه وکړئ؟

**تاسو اوس باید د خپل استوګنځي په لټه کې شئ. د خپل استوګنځي د موندلو پروسه د دې لپاره طرحه شوې ده، چې ستاسو سره په خصوصي سکټور کې د کرایه شوي استوګنځي په موندلو کې مرسته وکړي. دا پروسه به ستاسو سره، ستاسو په هوټل کې د شورا د کارکوونکو په ملاتړ، د نوي کور په موندلو کې مرسته وکړي.**

د ۲۰۲۳ کال د مې د میاشتې د دویمې نېټې څخه به موږ د سمون یوه نوې پروسه پلې کړو، دا پدې مانا ده چې ځینې کورنۍ چې ځانګړې اړتیاوې لري، کېدای شي د کورنیو چارو د وزارت څخه د مناسب استوګنځي یو وړاندیز، که چېرې شتون ولري، تر لاسه کړي.

خو د اکثریتو خلکو لپاره دا لټون پدې مانا دئ چې دوی پخپله د کرایي کورونو په خصوصي بازار کې د استوګنځي په لټه کې شي. په بل عبارت، تاسو به هغه استوګنځیو ته ولیږدول شئ، چې په شورا پورې اړه نلري.

موږ پوهېږو، چې د کرایي کورونو په خصوصي بازار کې د کور موندل او خوندي کول کېدای شي ستونزمن وي، په ځانګړې توګه کله چې تاسي په یوه نوي هېواد کې یاست. له همدې امله موږ تاسو ته په انګلستان کې د ستاسو د لومړي میشت کور په موندلو کې د مرستې لپاره پراخه ملاتړ چمتو کوو.

مهرباني وکړئ په یاد یې ولرئ، چې موږ دا تضمین نشو کولای، چې موږ به وکولای شو هر چا ته د استوګنې وړاندیز وکړو، ځکه چې په ټولې انګلستان کې د هغو کورنیو شمېر، چې د شورا د استوګنځایونو په لټه کې دي، د شته کورونو په پرتله خورا ډېر دی. نو که چېرې موږ تاسو ته یو وړاندیز درکړو، موږ به کلکه سپارښتنه کوو، چې تاسو یې ومنئ. که تاسو د استوګنځي یو وړاندیز رد کړئ، تاسو ته به د کورنیو چارو د وزارت لخوا د استوګنځي بل وړاندیز ونه شي.

**روزل شوي کارکوونکي به ستاسو په هوټل یا خدمت شوي استوګنځي کې حاضر وي، تر څو ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایی او تاسو ته سلامشورې درکړي. د دغو کارکوونکو په ډله کې د شورا کارمندان، د کورنیو چارو د وزارت د اړیکو کارکوونکي، د کار روزونکي او خیریه موسسې شاملې دي.**



Archived

This document has been archived as it no longer reflects current policy

# تاسو به خپل استوګنځی څنګه وموموئ؟

## تاسو کولای شئ د لاندې ګامونو په اخيستلو سره سمدلاسه پيل وکړئ:

1

ستاسو په اوسني استوګنځي کې د شورا د کارکوونکو څخه وغواړئ، چې ستاسو سره **د ارزونې د فورمې** په بشپړولو (ډکولو) کې مرسته وکړي، تر څو دا خبره ځانته معلومه کړئ چې تاسو څومره مالي توان لرئ.

2

د شورا د کارکوونکو سره **احتمالي سيمو ته د ليږد په اړه بحث وکړئ**. دوی به د شوراګانو سره اړيکه ونيسي، تر څو دا معلومه کړي، چې آيا دوی ستاسو سره مرسته کولای شي. ټولې شوراګانې به ونشي کولای، چې ستاسو ملاتړ وکړي، خو دا کار ستاسو د ليږد مخه نه نيسي که چيرې تاسې پخپله داسې يو کور ومومئ، چې مناسب او ارزانه وي.

3

په موافقه شوې سيمو کې **د خپل کور لټون پيل کړئ**. د کورونو د لټولو لپاره، تاسو کولای شئ د انټرنټ ويب پاڼې لکه OpenRent، Zoopla، Rightmove، يا ډېرې نورې ويب پاڼې وکاروئ. تاسو بايد د ډېرو ملکيتونو په اړه پوښتنې وکړئ، تر څو ستاسو د خونديې کولو چانس ډېر کړې. پدې اړه به ستاسو په لنډمهاله استوګنځي کې د شورا کارکوونکې د مرستې لپاره شتون ولري.

4

**کله چې تاسو يو مناسب کور ومومئ، په خپل لنډمهاله استوګنځي کې د شورا کارکوونکو ته ووایاست.** دوی به تاسو ته خبر ورکړي، چې آيا د هغې سيمې شورا چې تاسو غواړئ هلته ولاړ شئ، ستاسو ملاتړ کولای شي، او که نه. که تاسو د خپلې نوې شورا له ملاتړ پرته اقدام وکړئ، دوی ممکن هغه خدمتونه وړاندې نه کړي، چې تاسو ورته اړتيا لرئ.

5

**ستاسو نوې شورا کېدای شي ستاسو سره د لګښتونو په اړه** لکه په لومړئ کرايه، زېرمې او فرنيچر کې **مرسته وکړي.** دوی کېدای شي د بيا مېشتېدنې روان ملاتړ، لکه ستاسو سره د نږدې ښوونځي د موندلو او طبي خدمتونو ته د لاسرسي په اړه مرسته هم چمتو کړي.

د کورنيو چارو وزارت کولای شي ستاسو د ترانسپورټ په هکله مرسته وکړي، تر څو تاسې او ستاسې لوازم ستاسو نوي کور ته انتقال کړي. د نومړي وزارت د اړيکو د مامور سره خبرې وکړئ، کوم چې کولای شي ستاسو لپاره دا کار تنظيم کړي.

د استوګنځي د موندلو د څرنګوالي په اړه نور معلومات د GOV.UK په ويب پاڼه کې د «څنګه کور په کرايه ونيسئ» په لارښود کې شتون لري -

**www.gov.uk/government/publications/how-to-rent**

This document has been archived as it no longer reflects current policy

# ايا تاسو ته د انګلستان د حکومت لخوا د استوګنځي وړانديز کيږي؟

**د کورنيو چارو د وزارت لخوا کورنيو ته د وړانديز شوي ملکيتونو شمېر ډېر محدود دئ. نو تاسو ته پکار ده چې د ځان او خپلې کورنۍ لپاره د استوګنې ځای ومومئ. د کورنيو چارو د وزارت د اړيکو کارکوونکي او محلي شوراګانې به د دې پروسې په اوږدو کې ستاسو ملاتړ وکړي.**

که تاسو د کورنيو چارو د وزارت څخه د استوګنځي وړانديز تر لاسه کړ، موږ په کلکه تاسې هڅوو چې دا وړانديز ومني، **ځکه چې تاسې به دويم وړانديز تر لاسه نکړئ.**

که چيرې تاسې د هوټل د پرېښېدو نېټې ته نږدې شوي ياست او خپل استوګنځۍ مو تر اوسه خوندي کړۍ نه وي، مهرباني وکړئ د کورنيو چارو د وزارت د اړيکو د مامور يا د شورا د مشاور سره خبرې وکړئ، چې تاسو ته د راتلونکو ګامونو په اړه مشوره درکړي.





Archived

This document has been archived as it no longer reflects current policy

# نور معلومات

## که تاسي په ښوونځي کې ماشومان لرئ، نو کوم ملاتړ ستاسو لپاره شتون لري؟

د هغو کورنیو لپاره چې په ښوونځي یا وړکتون کې ماشومان لري، موږ دا لازمه ګڼو ، چې د دوی په زده کړه کې خنډ کم کړو. ستاسي شورا کولای شي ستاسو د کورنۍ په نوي ځای کې تاسو ته ملاتړ تنظیم کړي. په انګلستان کې، شوراګانې باید ستاسو د خوځېدو د نېټې د څو اونیو په ترڅ کې د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو ته ستاسو د نوې سیمې په یوه ښوونځي کې ځای درکړي.

ستاسو په هوټل کې د شورا کارکوونکي به تاسو ته د دې کار د کولو د څرنګوالي په اړه نور معلومات درکړي. د ښوونې او روزنې ریاست به هم تاسو ته په دې اړه معلومات واستوي تر څو ستاسو سره مرسته وکړي، چې تاسې نور څه باید وکړئ چې یو ښوونځی پیداکړئ.

## که تاسي یا ستاسي کورنۍ طبي اړتیاوې یا معلولیت ولري، نو کوم ملاتړ شتون لري؟

که تاسې داسې طبي اړتیا یا معلولیت لرئ چې درملنه یې یوازې په یوه ځانګړې سیمه کې چمتو کېدای شي، د انګلستان حکومت او د هغه شریکان به ستاسو سره یوځای کار وکړي، تر څو ډاډ ترلاسه کړي، چې کله تاسې یوه نوي کور ته ولاړشئ، ستاسي اړتیاوې به پوره شي او تاسې به وکولای شئ خپلې درملنې ته دوام ورکړئ.

که تاسې داسې طبي اړتیاوې یا معلولیتونه لرئ، چې ستاسې ته د خپل استوګنځي لټون یا خوندي کول ستونزمن کوي، تاسې کېدای شي د انګلستان حکومت یا محلي شوراګانو څخه د لا زیاتو مرستو مستحق وګڼل شئ. له تاسو څخه به وغوښتل شي، چې تاسې د طبي اړتیا یا معلولیت په اړه ثبوت وړاندې کړئ.

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په خپل هوټل کې د کورنیو چارو د وزارت د اړیکو له مامور یا د شورا له کارکوونکي سره، چې هلته ستاسو سره د مرستې لپاره شتون لري، خبرې وکړئ.

## تاسو د کومو ګټو او عامه خدمتونو مستحق یاست؟

کله چې تاسې د ACRS یا ARAP له لارې انګلستان ته راغلئ، ژر تر ژره تاسو ته په انګلستان کې د نامعلوم وخت لپاره د پاتې کېدو حق، د کار کولو حق او د ملکیت د کرایه کولو حق درکړل شو. دا حقونه تلپاتې دي او له منځه نه ځي.

**کله چې تاسو خپله لنډمهاله استوګنه پرېښوده، تاسې به بیا هم د پخوا په شان د ګټو د غوښتنې او عامه خدماتو ته د لاسرسي وړ یاست. پدې کې لاندې ټکي شامل دي:**

- **د انګلستان ګټو ته لاسرسی.**
- **تاسو او ستاسو د کورنۍ لپاره د ملي روغتیا د خدماتو له لارې وړیا روغتیایي پاملرنې ته لاسرسی.**
- **مرستندویه خدماتو ،لکه د ژباړې خدمتونو ته لاسرسی، او روغتیایي خدمتونو، تعلیم، او کارموندنې ته لاسرسی.**
- **د ښوونځیو او وړکتونونو د موندلو او د ماشومانو یا زیان منونکو لویانو لپاره د ځانګړي پاملرنې د اړتیاو د تنظیمولو لپاره ملاتړ.**



Archived

This document has been archived as it no longer reflects current policy

## کوم ملاتړ شتون لري، چې ستاسو سره د کار یا روزنې په لاسرسي کې مرسته وکړي؟

که چیرې تاسې یونیورسل کریډیټ تر لاسه کړئ او د کار کولو توان ولرئ، تاسې د کاري روزونکي د درلودلو مستحق یاست. دوی ستاسو د دندې په لټون کې ستاسو سره د مرستې لپاره شتون لري، او دوی کولای شي تاسو ته ستاسو د اړتیاوو پر بنسټ انفرادي ملاتړ درکړي. پدې کې لاندې ټکي شاملېدلای شي:

- ستاسو سره مرسته کوي چې ستاسو د لېږد وړ مهارتونه وپیژني او دا څنګه کولای شي ستاسو سره په دندو یا صنعتونو کې مرسته وکړي چې تاسو یې پخوا فکر نه کاوه.
- ستاسو د کار د لټون او ستاسو لپاره د مناسبو فرصتونو په موندلو کې د مرستې لپاره د دوی د محلي مهارتونو کارول.
- د تاسو سره د تاسو د بیوګرافۍ (کاري سابقې) په جوړولو، ښه کولو او سمون ورکولو کې مرسته کول.
- د کار د غوښتنلیکونو سره ستاسو ملاتړ کول او ستاسو د بریا د چانس د زیاتولو په موخه مشورې چمتو کول.
- د مرکو لپاره ستاسې په چمتو کولو او تمرین کې د مرستې کول.

د کار لارښوونکي په ټولو هوټلونو کې شتون لري. وروسته له دې چې تاسې خپل نوي، استوګنځي ته ولاړ شئ، تاسو به بیا هم د کار د لارښوونکي ملاتړ ته لاسرسی ولرئ.

## اضافي ملاتړ

د هغو کسانو لپاره چې د ARAP له لارې انګلستان ته راغلي دي، کوم چې دفاعي اړیکه لري او غوارې هغه وساتي، ستاسو لپاره کېدای شي د Op NEWHOPE له لارې ملاتړ شتون ولري. دا ملاتړ د انګلستان د دفاع وزارت د شریکانو له لارې تر سره کېږي: د برتانوي سلطنتي پوځ، د اتلانو لپاره مرسته، د ځواکونو د کارموندنې خیریه موسسه، او ګلاب سرخ. دا ملاتړ کېدای شي په فزیکي او رواني روغتیا؛ د کار په موندلو؛ او د تاسو په محلي ټولنه کې ستاسو په ادغاملو پورې اړه ونیسي.

که تاسو د Op NEWHOPE لپاره وړ یاست، د دفاع وزارت به تاسو ته بریښنالیک واستوي، چې ستاسې رضایت تر لاسه کړي ترڅو د مرستې لپاره نورو خیریه شریکانو ته راجع شئ.





Archived

This document has been archived as it no longer reflects current policy

Archived

# که تاسو نورو مرستو ته اړتیا لرئ څه باید وکړئ؟

که تاسي مرستې او مشورې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ په خپل استوګنځي کې خپل د کورنیو چارو د وزارت د اړیکو د مکلف مامور یا ستاسو د شورا د ملاتړ د کارکوونکو سره خبرې وکړئ.

دوی ستاسو د اړیکې لومړی ځای دئ او کولالی شي د تاسو سره راز راز ملاتړ ته د لاسرسي په برخه کې مرسته وکړي.

**د مرستې د کرښې د تلیفون شمېرې ته زنګ ووهئ**

د افغانستان د بیا مېشتېدنې په اړه د پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ **د عمومي مهاجرت د پوښتنې د کرښې** سره اړیکه ونیسئ.

**تلیفون: ۰۳۰۰۷۹۰۶۲۶۸ – ۲یم انتخاب کېکاږئ**

له دوشنبې څخه تر پنجشنبې پورې،
د سهار له ۹ بجو څخه بیا د مازدیګر تر ۴:۴۵ بجو پورې
د جمعې په ورځ، د سهار له ۹ بجو څخه بیا د مازدیګر تر ۴:۳۰ بجو پورې

**مهرباني وکړئ په یاد یې ولرئ:** د مرستې کرښه د اوونۍ په پای کې او د بانک په رخصتیو کې تړلې ده.

په تلیفون کې مشاورین به تاسو ته هغه معلومات درکړي چې تاسو ورته اړتیا لرئ د بېلګې په توګه د تلیفون شمېرې، ګټورې ویب پاڼې، د شوراګانو په اړه توضیحات.

**د تلیفون لګښتونه او د تلیفون شمیرې**

د تلیفون د شمېرې د زنګ وهلو لګښت د شمیرې د پیل په ارقامو، ستاسو د تلیفون په شرکت او په دې پورې اړه لري، چې تاسې ځمکنۍ یا ګرځنده کرښه کاروئ. تاسې کېدای شي د خپل زنګ وهلو د بستې د یوې برخې په توګه ځینو شمېرو ته وړیا تلیفونونه ترلاسه کړئ. په دې اړه د خپل تلیفون له چمتو کونکي سره اړیکه ونیسئ.

**د GOV.UK د ملاتړ اړیکه**

دا QR کوډ سکین کړئ یا دغې ویب پاڼې ته لاړشئ **https://www.gov.uk/government/publications/support-forafghans-to-find-settledaccommodation** ترڅو د دې پاڼې ژباړې او یو لړ فارمټونو کې لاسرسی ومومئ. نور ګټور مواد هم هلته شتون لري.

د ۲۰۲۳ کال د اپریل میاشت